UK Health Security Agency

NHS



وروسته له دې چې ماشوم مو

# د COVID-19 واکسين ترسره کړل نو څه به پيښيږي



د 5 تر 11 کلنو ماشومانو د والدينو لپاره لارښود

نور معلومات په nhs/CovidVaccine ويبسايټ کې وګورئ



# NHS ټولو په شرایطو برابرو ماشومانو ته د COVID-19 واکسین وړاندې کوي.

دا معلوماتي پاڼه تاسو ته ښيي چې ماشوم مو د واکسینو له ترلاسه کولو وروسته له څه سره مخ کېږي.

## جانبي عوارض

واکسین هم لکه د نورو درملو په شان جانبي عوارض لري. ډېری دا عوارض ضعیف او لنډمهاله وي او ټول ماشومان یې نه تجربه کوي. ډېری معمول عوارض تر یوې یا دوو ورځو پورې دوام کوي. ښایي چې Pfizer واکسین له دوهم دوز وروسته ډېر جانبي عوارض ولري.

په لومړۍ یوې یا دوو ورځو کې تر ټولو معمول جانبي عوارض په لاندي ډول دي:

- په څنګل کې د پیچکارۍ په ځای کې د درد، دروندوالي او سستیا احساس
- د ستړیا احساس
- سردرد، دردونه او سړه تبه

همدارنګه کېدی شي د یوې یا دوو ورځو لپاره په هغوی کې والګي ته ورته علایم او لړزې او اهتزازات پیدا شي. لیکن د بدن د حرارت د درجې لوړوالی کېدی شي په دې مانا وي چې هغوی COVID-19 یا کومه بله ناروغي لري.

دوی باید استراحت وکړي. تاسو کولی هغوی ته پرستامول ورکړئ ترڅو هغوی د روغتیا احساس وکړي. لطفا پام وکړئ چې پرستامول دوز او نوعه ستاسو د ماشوم له سن سره مطابقت ولري.

د پرستامول په هکله نور معلومات کولی شئ په
www.nhs.uk/medicines/paracetamol-for-children
ویبسایټ کې وګورئ.

غیر معمول جانبي عوارض کېدی شي د هغه طرف په څنګل کې چې واکسین یې کړي، په تخرګ یا څټ کې د غدو پړسوب وي. دا کېدی شي تر 10 ورځو پورې دوام وکړي، خو که چېرې یې ډېر دوام وکړ نه له خپل ډاکټر سره وګورئ.

## که چېرې د هغو د علايمو په هکله اندېښنه لرئ نو څه به کوئ

دا علايم معمولا تر يوې اونۍ کم دوام کوي. که چېرې د هغوی علايم د بدتر کېدو په حالت کې وو او يا مو د هغوی په هکله اندېښنه لرله، نو له NHS 111 سره اړيکه ونسئ. که چېرې مو له ډاکټر يا نرس څخه د مشورې غوښتنه کوله نو هغوی ته مو د خپل ماشوم د واکسينو په هکله وواياست (هغوی ته د ماشوم د واکسينو کارت ښکاره کړئ) ترڅو هغوی وکولی شي ستاسو ماشوم په سمه توګه وارزوي.

همدارنګه تاسو کولی شئ د واکسينو او درملو مشکوک جانبي عوارض په په انلاين ډول د Yellow Card د طرحې له لارې او يا هم د Yellow Card د اپليکېشن له لارې رپوټ کړئ.

**coronavirus-yellowcard.mhra.gov.uk**

## آيا نور جدي جانبي عوارض هم موجود دي؟

په دې وروستيو کې ځينې داسې پېښې رپوټ شوې دي چې د COVID-19 واکسين په ندرت سره د زړه د پړسوب (چې ميوکارډيټس يا پريکارډيتس ورته ويل کېږي) سبب شوي دي.

دا پېښې ډېرې په ځوانانو کې د واکسینو له تطبیق څخه څو ورځې وروسته لیدل کېږي. ډېری دا خلک ژر ښه شوي دي او وروسته له استراحت او ساده درملنې څخه بېرته روغ شوي دي.

که چېرې ستاسو ماشوم دا علایم تجربه کوي نو باید ژر تر ژره د صحي مشورې غوښتنه وکړئ:

- د سینې درد
- سالنډې
- د تېز نفس ایستلو احساس، لړزه، او یا هم په شدت سره د زړه تپېدل.

## آیا ستاسو ماشوم د واکسینو له امله په COVID-19 اخته کېدی شي؟


ستاسو ماشوم د واکسینو له امله په COVID-19 نه اخته کېږي، لیکن امکان لري په COVID-19 اخته شي او د واکسینو د وخت تر پوره کېدو پورې په علایمو پوه نه شي.

د COVID-19 تر ټولو مهم علایم د لاندې مواردو پیلېدل دي:

- دوامداره ټوخی
- د بدن د حرارت د درجې لوړوالی
- د ذایقې او شامې حس له لاسه ورکول یا کمېدل (انوسمیا)

دا هم کېدی شي د واکسینو په لومړۍ یوه یا دوو ورځو کې تبه هم پیدا شي، که چېرې ستاسو ماشوم د COVID-19 نور علایم ولري او یا یې تبه دوامداره شي، نو په کور کې پاتې شئ او ټېسټ ترسره کړئ.

## له هغې وروسته به څه کوو




وروسته د ماشوم له واکسینېدو څخه تاسو ته باید د ثبت کارت درکړل شي. که چېرې ستاسو ماشوم د واکسینو دوهم دوز ته اړتیا ولري نو هغه به له 8 تر 12 اونیو وروسته دوهم دوز ترلاسه کړي. دوهم دوز به هغوی ته اوږدمهاله محافظت ورکړي.

**د خپل ماشوم د ثبت کارت خوندي وساتئ. که چېرې ستاسو ماشوم دوهم دوز ته اړتیا ولري، نو د واکسینو راتلونکی ملاقات مو مه هېروئ.**

## که چېرې مو ماشوم د ملاقات په وخت کې روغ نه وي

که چېرې ستاسو ماشوم ناروغ وي، نو دا به غوره وي چې د هغه تر روغېدو پورې په تمه شئ او بیا وروسته واکسین ورکړئ.

که چېرې ستاسو ماشوم د قرنطین په حال کې وي او یا هم د COVID-19 ټېسټ ته په تمه وي نو باید د واکسینو په ملاقات کې ونه‌ېږ وانخلي. که چېرې ستاسو د ماشوم د COVID-19 د ټېسټ پایله مثبت وي، نو تمه داسې کېږي چې تاسو باید تر 12 اونیو پورې په تمه شئ، او که چېرې مو ماشوم له جدي ګواښ سره مخ وي نو 4 اونۍ په تمه شئ.

## آیا واکسین به ستاسو د ماشوم محافظت وکړي؟

د COVID-19 هغه واکسین چې ستاسو ماشوم ترلاسه کړي دي، په COVID-19 ناروغۍ باندې د هغه د اخته کېدو احتمال راکموي.

په نړۍ کې د دې واکسینو ملیونونه دوزونه خلکو ته ورکړل شوي دي. دا واکسین ماشومانو او ځوانانو ته ډېر ګټور ثابت شوي دي.

ستاسو د ماشوم د بدن له خوا له واکسینو څخه د محافظت ترلاسه کول کېدی شي یو څو اونۍ وخت ونیسي. لکه څنګه چې نور درمل دي، واکسین هم به بشپړ ډول ګټور نه دي، نو ځکه باید له ناروغۍ څخه د مخنیوي لپاره وړاندې شویو احتیاطي تدابیرو ته دوام ورکړئ.

ځینې ماشومان کېدی شي د واکسینو سربېره په COVID-19 ناروغۍ اخته شي، لیکن د هغوی ناروغي به ډېره شدیده نه وي.

## وروسته د واکسینو له ترلاسه کولو څخه ستاسو ماشوم باید څه وکړي

واکسین نه شوي کولی ستاسو ماشوم ناروغ کړي، او په ناروغۍ باندې د هغوی د اخته کېدو احتمال راکموي.

لا هم اړینه ده چې د اوسنیو ملي لارښوونو تعقیبولو ته دوام ورکړئ. ستاسو ماشوم کولی شي وروسته د واکسینو له تطبیق څخه ښوونځي ته تللو ته دوام ورکړي.

د خپلو ځان، دوستانو، همکارانو او کورنیو د ساتلو لپاره باید لا هم لاندې موارد ترسره کړئ:

- ټولنیز واټن ته پام وساتئ
- که چېرې توصیه کېږي نو د ماسک اغوستلو ته دوام ورکړئ
- خپل لاسونه مو په بشپړ او مکرر ډول ومینځئ
- کړکۍ پرانیزۍ او پرېږدئ چې تازه هوا د ننه شي
- اوسني لارښودونه تعقیب کړئ (gov.uk/coronavirus)





## COVID-19 ښځکه خپرېږي

COVID-19 د هغو ذرو له امله خپرېږي چې د تنفس په وخت کې له پوزې یا خولې څخه روازي، په ځانګړې ډول د خبرو کولو او ټوخي په وخت کې. همدارنګه کېدی شي د ځتلو توکو سره له تماس وروسته د سترګو، پوزې یا خولې د لمسولو له امله په دې ناروغۍ اخته شئ.

## نور معلومات

لطفا د واکسینو په هکله د نورو جزئیاتو لپاره، په شمول د ممکنو جانبي غوارضو، د تولیداتو د معلوماتو لارښود د Yellow Card په ویبسایټ کې ولولئ.

همدارنګه تاسو کولی شئ مشکوکې پېښې د همدې ویبسایټ له لارې او یا د Yellow Card د اپلیکېشن د ډونلوډولو له طریقه رپوټ کړئ. نور معلومات په دې ویبسایټ کې کتلی شئ www.nhs.uk/conditions/coronavirus-covid-19/coronavirus-vaccination.





© Crown copyright 2022. V1 1p 500K JAN 2022 (APS)
UK Health Security Agency gateway number: 20211184.
Product code: C22W511PAS Pashto.

This leaflet is also available as an Easy Read version, braille, large print, and in Albanian, Arabic, Bengali, Bulgarian, Chinese, Estonian, Greek, Gujarati, Hindi, Panjabi, Latvian, Lithuanian, Polish, Portuguese Brazilian, Romany, Romanian, Russian, Somali, Spanish, Turkish, Twi, Ukrainian and Urdu paper copies.

د دې لارښود د نورو کاپیانو د ترلاسه کولو لپاره www.healthpublications.gov.uk ویبسایټ ته مراجعه وکړئ او یا دې شمېرې ته زنګ ووهئ: 03001231002 (له دوشنبه تر جمعې د سهار له 8 څخه د مازدیګر تر 6 پورې).